۸: هم دغه، مم ۴۷-۴۶

۹: خلیق، عبدالخالق، د ازادی جنګ،اداره اشاعت سرحد پشاور،۱۹۷۲، م م ۱۷۲-۱۷۴

# فضل الرحیم ساقي ژوند او ادبي خدمات

# LIFE & LITERARY SERVICES OF FAZAL RAHIM SAQI (1904- 1994)

ډاکټر محمد زبیر حسرت[1]

**ABSTRACT:** Fazal Rahim Saqi was not only relative of the great Pashtoon leader Khan Abdul Ghafar khan (Bacha Khan) but also an enthusiastic activist of Khudai Khidmatgar movement led by Khan Abdul Ghafar Khan.

He remained an active member of this moment till his death. Following the advice of Bacha Khan ,he mentioned the activities of this moment in his writings weather it is prose or verse .

In this research paper includes a survey of his life and literary works.

دَ ځوانئ عمر چې څۀ وۀ پۀ جهل خانو تېر شو
يا پۀ کوڅو کښې دَ بې ننګه پښتنو تېر شو
نۀ دَ بچيو پۀ خوند خبر شوم نۀ دَ مال او متاع
دَ مستئ خوب وۀ دَ ازغو پۀ بسترو تېر شو (۱)

دا پورتني دوه بېتونه دَ محترم فضل الرحيم ساقي دَ عملي ژوند دَ غُرزو پُرزو او ژوندو هلو ځلو يوه غوره او بې مثاله نمونه ده۔

فضل الرحيم خان چې تخلص يې ساقي ؤ، پۀ عُرف عام کښې پۀ فضل الرحيم ساقي يا ساقي صاحب مشهوره ؤ۔ دَ پلار نوم يې عبدالعزيز خان، دَ نيکۀ نوم يې خواص خان او دَ کر نيکۀ نوم يې ميرعالم خان ؤ چې دَ اشنغر چارسدې دَ رڅړو کلي دَ کنان خېلو څانګې سره تعلق لري۔ ساقي صاحب دَ جون مياشت کال ۱۹۰۴ء کښې پېدا شوی دی۔ (۲) دَ پېدائش کلی يې رڅړ چارسده ده خو وروستو يې مشرانو خپلو زمکو دَ رڅړو مېره وردګې نومې کلي ته يې نقل مکاني کړې ده. اولاد يې اوس هم پۀ وردګه کښې مستقله استوګنه کوي۔

ساقي صاحب رسمي تعليم تر څلورم جماعته کړی دی خو دَ خپلو خداداد صلاحيتونو او مطالعې له کبله يې ډېر علم، پوهه، ځيرکي او شعور حاصل کړی دی۔ دوي خپل کتاب ((ژوندون)) کښې دَ خپل ځان، تعليم، شاعرئ، خپلو کتابونو او خدائي خدمتګار تحريک دَ ابتدا پۀ حقله ليکلي دي چې:

زۀ پۀ ۱۹۰۴ء کښې دَ جون پۀ مياشت کښې دَ عبدالعزيز خان کره پېدا شوم۔ قراٰن شريف، خلاصه، مُنيه مې جماعت کښې ولوستل، پنج کتاب (پنج ګنج) ګلستان، بوستان مې مکتب کښې رڅړو کښې دَ انور استاذ نه ولوستل او ليکل مې ورسره ورسره زده کړل۔ اردو ژبه مې دَ مېرې دَ ګل اباد مدرسه کښې دَ شجاع استاذ نه تر څلورم جماعت ولوستله. دَ نظم پۀ زور دَ پښتو ژبې ليکل لوستل پۀ خپله راغلل۔ دَ ډېرو ليکلو لوستلو له سببه مې پښتو، اردو، فارسي، عربي ژبو باندې ښۀ عبور حاصل شو۔ پۀ ۱۹۲۷ء کښې زما شاعري شروع شوه۔ پښتو ژبه کښې مې دَ نظمونو دوه کتابونه ((ډک جام)) او ((نيم جام)) چاپ شول۔ پۀ ۱۹۳۰ء کښې مې دَ خدائي خدمتګارئ تحريک کښې کار شروع کړو۔ (۳)

ساقي صاحب خپله شعري مجموعه ((ډک جام)) کښې دَ ((زۀ)) عنوان لاندې خپل نظم کښې دَ خپل ځان متعلق دغه معلومات راکوي. دا نظم هغوي پۀ جېل کښې پۀ ۱۹۵۲ء کښې ليکلى دى، نظم دا دى:

اصل کلى مې رځړ دَ هشتنګر دى
خو وردګه مې بانډه دَ زړګي سر دى
پېدا شوى يم له عبدالعزيز خانه
خواص خان صاحب دَ دۀ نوم دَ پدر دى
د هغۀ دَ بابا نوم مير عالم خان ؤ
محمد زى پۀ ذات اصلي پښتون کسکر دى
زما نوم فضل الرحيم اېښى مور پلار دى
پۀ ساقي مشهور وطن باندې اکثر دى
مسلمان اهل السنت والجماعت يم
کنان خېل (۴) نامه زموږه لوى ټبر دى
درې زامن مې دي مړۀ شوي درې ژوندي دي
شپږ مې لوڼه دَ پينځو ژوندى اوس سر دى
دوه مې ښځې يوه مړه يوه ژوندۍ ده
پۀ سن باون عيسوي کښې دا دفتر دى
عيسوي سن چار کښې يمه پېدا شوى
اوس اړتاليس کاله عمر دَ مقر دى
سياسي قېد تېروه پۀ ډېره مينه
ساقي دا دې پۀ ازل کښې مقدر دى (۵)

دَ ساقي صاحب دَ خپلو خبرو نه موږ پۀ دې نتيجه رسو چې پخوا دَ تعليم څۀ معيار ؤ چې يو هلک به پۀ مدرسه يا مکتب کښې داخل شو او تر ځلورم جماعته به رسېدو نو ځومره کتابونه به يې لوستلي وو او کومې کومې ژبې به يې زده کړې وې خو داسې ماشوم چې دَ غېر معمولي صلاحيتونو خښتن وي، شاعر هم وي نو دَ خپلې خصوصي دلچسپۍ له کبله ځومره څۀ زده کولى شي او پۀ وړاندې ژوند کښې ځومره وړاندې تللى شي او ځومره کاميابۍ حاصلولى شي.

۱۹۳۰ء دَ پښتنو پهٔ تاريخ کښې ډېر اهم کال دی۔ پهٔ دغه کال چې څومره واقعات شوي دي او دَ ازادئ دَ شمعې پتنګانو پکښې دَ قام اولس دَ خدمت او دَ وطن دَ ازادئ دپاره څومره ډېرې قربانئ ورکړې دي، ځانونه، مالونه او جائېدادونه يې پهٔ دغه لاره کښې تباه او برباد شوي دي نو ساقي صاحب هم چې پهٔ ۱۹۳۰ء کښې دَ حضرت باچا خان دَ خدائي خدمتګارئ لمن نيولې ده نو بيا يې پهٔ وړومبي نومبر ۱۹۹۴ء پهٔ خپل مرګ پرېښې ده ۔ ګويا ساقي صاحب چې پهٔ ۱۹۲۷ء کښې دَ خدائي خدمتګارئ پهٔ تحريک کښې خپل فعاليتونه شروع کړي وو، هغه يې دَ خپل ژوند تر وروستي سپرلي پورې جاري ساتلي وو او کوم کار چې ترې دَ لوئې الله پهٔ فضل باچا خان بابا اخستی دی، دَ هغې نه يې پهٔ هېڅ حال کښې هم غاړه نهٔ ده غړولې او هاغه ټول تکليفونه، مصيبتونه، غمونه او دردونه يې دَ يو نهٔ ستړي کېدونکي سپاهي پهٔ شان دَ خپل ژوندي ضمير، ويښ احساس او بېدار شعور سره زغملي دي چې دَ خپل مقصد دَ حصول پهٔ لاره کښې پرې راغلي دي۔ هغه دَ باچا خان يو داسې سپاهي ؤ چې دَ خدائي خدمتګارئ پهٔ ډېرو سختو کاڼيزو او ازغنو لارو کښې يې هم دَ ډېر صبر، زغم او برداشت نه کار اخستی دی۔ دَ جېل صعوبتونه يې زغملي دي، دَ خپل کلي کور، خپل خاندان، خپلو بچيو او خپلو مئينو نه لرې پاتې شوی دی او تر ډېر لرې پورې يې دَ باچا خان دَ خدائي خدمتګارئ پېغام دَ خپلې خوږې پښتونخوا ښار ښار، کلي کلي، کوڅې کوڅې، کور کور او دَ هر پښتون بچي بچي زړهٔ، ذهن او روح ته رسولی دی۔ دَ خپل نېک مقصد دَ حصول دپاره يې تبليغ کړی دی او دَ دغه تبليغ پهٔ ذريعه يې پهٔ سوونو او زرګونو نور خدائي خدمتګار پېدا کړي دي چې ملک او قام يې دَ پېرنګي دَ غلامئ دَ جغ نه ازاد کړی دی خو دَ ازادئ نه پس چې پرې دَ خپل وطن خپلو مسلمانانو خلقو کوم دَ ظلمونو غرونه رانړولي دي، هغې ته يې هم دَ ننګ، غېرت، پښتو او پت پهٔ هر سنګر سر او سينه ډال نيولې ده۔ يقيناً چې موږ نن دَ فضل الرحيم ساقي صاحب دا کتاب «خدائي خدمتګار» لولو او دَ هغوي غُرزې پُرزې، هلې ځلې، تکليفونه وينو ګورو نو غُونې راباندې ځېږ ځېږ شي چې دغه غرونه غرونه خلق کومو طوفانونو ته مخ وو خو بيا هم ثابت قدم پاتې شوي دي، دَ خپل صبر او زغم پهٔ قوت له خپله ځايه نهٔ دي خوځېدلي او دَ خوشحال بابا دَ دې شعر عملي نمونه يې قوم ته وړاندې کړې ده چې:

دَ عالم ډېرې خبرې لور پۀ لور تورې لښکرې
زړۀ مې نۀ خوځي له ځایه غر خو هسې وي کنه

او بیا چې مونږ دا وینې وینې او غم لړلې دَ اوښکو، اسوېلو او سلګیو نه ډک داستانونه لولو نو دَ خوشحال بابا دا شعر راته بیا بیا رایادېږي چې:

لا یو شور راځنې لاړ نۀ وي بل راشي
مګر زۀ پېدا پۀ ورځ دَ شور او شر یم

ساقي صاحب دغه ټولې خبرې او قیصې خپل یو نظم «زما ژوندون» (ډک جام) کښې ځۀ دا رنګ بیان کړې دي چې:

انیس سو چار کښې پېدا شوم پۀ جهان
میاشت دَ جون وه ګرمي ډېره وه پرېمان
لۀ هغې ورځې چې پوه شومه پۀ ځان
لا تر ننه یم پۀ مینځ کښې دَ مېدان
دَ پښتون دَ ننګ او نام مېدان تیار وۀ
رابلل به پښتانۀ فخرِ افغان
وړاندې عبدالغفار خان دَ اَتمانزو شو
ورپسې شو پښتانۀ زاړۀ ځوانان
ځۀ زیاتې لۀ سلو کالو وو تېر شوي
چې انګرېز پۀ پښتونخوا وۀ حکمران
پښتانۀ یې هسې شانې وو خوار کړې
نۀ دولت، حیا، عزت وۀ نۀ ایمان
مونږ دَ صبر جنګ شروع کړو لۀ انګرېزه
پښتانۀ پۀ یوه خُولۀ شو یکهمان
چې دوي هره سختي کړله مونږ زغمله
نۀ لۀ مرګه ویرېدو نۀ لۀ زندان
ځو ځو ځله پکښې قېد شومه رها شوم

څو څو کاله مې کړل تېر په یاغستان
په پینځلس کاله پس پېرنګی جر شو
لاس په سر شو هم لۀ نام او لۀ نشان
پۀ کال نولس سوه دېرش کښې ابتدا وه
پۀ پېنتالیس کښې انګرېز شو ګرېزان
پۀ سېنتالیس کښې همه وطن ازاد شو
څۀ بهارت شو څۀ زموږه پاکستان
پۀ اړتالیس کښې بیا موږه نظر بند شو
باچا خان سره خدائي خدمتګاران
دا سن باون عیسوي دی لا بندي یو
جېلخانه کښې مې پینځم کال دی روان
هېڅ پۀ ښو پۀ بدو نۀ یو پوهېدلي
بندي شوي یو پۀ وهم پۀ ګمان[1]
خدای پوهېږي چې به کله رها کېږو
کۀ دا جېل دَ هري پور شو ګورستان

نوم زما فضل الرحیم ساقي مشهور یم
نن مې جوړ کړو جېلخانه کښې دا بیان
(۱۱۴ او ۱۱۵
مخونه)

**ودونه او اولاد:**

دَ فضل الرحیم ساقي صاحب دَ درېم زوي ښاغلي محمد نواز خان دَ وېنا تر مخه ساقي صاحب وړومبی وادۀ دَ الائي (هزارې) دَ عاقبت شاه لُور ((ولاجان بي بي)) سره شوی ؤ چې دَ حبیب خان نمسۍ وه. دوي دَ هزارې نه وردګې ته نقل مکاني کړې وه چې درې زامن محمد ریاض، محمد اعجاز خان او محمد نواز خان ترې زېږېدلي دي. دغسې الله پاک ورله پینځۀ لوڼه ورکړې وې چې پکښې دا وخت دوه

لوڼه مملکت (گل بي بي) او نزاکت ژوندۍ دي او مېمونه، ناز پرور او همدمه وفات شوي دي. الله پاک دې وبخښي.

ساقي صاحب دوېم وادهٔ دَ محمد نارې دَ تاج محمد خان لُور (بي بي زاده) سره شوی دی چې دَ محمد نارې دَ سلطان محمد خان (د باچا خان خوريے وهٔ) دَ ترهٔ لُور وه او يوه لور همدمه بي بي ترې زېږېدلې ده چې دَ محمد نارې دَ فريد خان پهٔ زوي خليل خان وادهٔ ده او څلور زامن ترې پېدا شوي دي چې نومونه يې دا دي: شېر شاه، سېفور، نادر او محبوب. پهٔ دوي کښې سېفور ژوندی دی او نور وفات شوي دي.

**شجره**: دَ ساقي صاحب زوي محمد نواز خان لالا چې ماله کومه شجره راکړې ده، هغه دا ده:

دَ محمد زو کنان خېل مامون خان او مير عالم خان دوه وروڼه دي.

په دوي کښې دَ مير عالم خان درې زامن دي مير احمد خان، خواص خان او سکندر خان. بيا دَ خواص خان څلور زامن دي عبدالعزيز خان، محمد اعظم خان، عبدالحکيم خان او برهان خان.

بيا دَ عبدالعزيز خان دوه زامن دي عبدالکريم خان او فضل الرحيم خان (ساقي)

دَ فضل الرحيم ساقي درې زامن دي محمد رياض خان، محمد اعجاز خان او محمد نواز خان او پينځهٔ يې لوڼه دي، درې لوڼه مېمونه، همدمه او ناز پرور يې وفات شوي دي او مملکت شاهين (گل بي بي) او نزاکت شاهين ژوندۍ دي.

د ساقي صاحب د مشر ځوي محمد رياض خان دوه زامن دي اېمل خان او عادل خان. دَ محمد اعجاز خان دوه زامن دي محمد پارس خان، محمد عارف خان او دَ محمد نواز خان دوه زامن دي محمد عبدالرحيم خان او محمد عبدالعزيز خان.

دَ عادل خان يو زوی دی کامل خان او دَ اېمل خان درې زامن دي سباوون خان، خوشحال خان او مشال خان.

دَ فضل الرحيم ساقي دَ ورور عبدالکريم خان درې زامن دي محمد علي خان، نصر الله خان او همايون خان.

دَ محمد علي خان دوه زامن دي سيف الله خان او شاکر الله خان، دَ نصر الله خان يو زوی دی تېمور خان او دَ همايون خان يو زوی دی عمردراز خان. دَ عمر دراز خان زوی ادم خان دی.

دَ سیف الله خان دوه زامن دي راحت الله خان او سعد خان. [1]

فضل الرحیم ساقي صاحب خپل ټول ژوند دَ خدائي خدمتګارۍ په لاره کښې تېر کړی دی. هم دې ژوند کښې هغوي شاعري هم کړې ده، ادب يې هم تخلیق کړی دی، سیاست يې هم کړی دی. په سیاست کښې يې چرې هم دَ ذاتي مفاداتو خیال نۀ دی ساتلی. دَ قوم نه يې څۀ غوښتي نۀ دي. دَ خپل ځان او خپل صحت څۀ پروا يې نۀ ده کړې، دَ خپل کور او خپلو بچیو تعلیم او تربیت ته پکښې هم نۀ دی وزګار شوی خو ورځ او شپه يې په ځان یوه کړې ده. په اصلي معنیو کښې يې دَ خپل پښتون قام، پښتو ژبې او ادب خدمت کړی دی چې دَ پښتو دَ شعر و ادب تاریخ کښې به دَ سرو زرو په اوبو لیکلی شي.

د ساقي صاحب کوم درې چاپ شوي کتابونه ((ډک جام))، ((نیم جام)) شعري مجموعې او بل دَ نثر کتاب ((دَ خدائي خدمتګارۍ په تحریک کښې زما ژوندون)) دَ هغې لنډه غوندې پېژندګلو دلته وړاندې کوو.

دا درې واړه کتابونه چې ما په ژور نظر ولوستل نو په دې نتیجه ورسېدم چې فضل الرحیم ساقي صاحب دَ خپل ژوند سره سره دَ خدائي خدمتګار تحریک هغه ټول حالات او واقعات دَ شعر او نثر په شکل کښې دَ مستقبل دَ لیکونکیو،محققینو او پښتون قام دپاره محفوظ کړي دي چې وخت په وخت يې دَ روزنامچو او ډائرو په صورت کښې دَ خپل مشر او دَ خدائي خدمتګارو دَ سرخېل حضرت باچا خان په وینا لیکلي دي او داسې يې نۀ یواځې په خپله زمکه خپل دستخط ثبت کړی دی بلکې دَ ډېرو زیاتو خدائي خدمتګارو نومونه او دَ هغوي دَ ژوند سره تړلي حالات او واقعات يې هم دَ فنا دَ ګردونو نه ساتلي او محفوظ کړي دي چې نن پرې زما غوندې ډېر پښتانۀ زلمي ځوانان او درست پښتون قام دَ فخر شمله هسکولی شي.

ساقي صاحب خپل ژوندون کښې دَ باچا خان هغه سند هم په اتم مخ ثبت کړی دی چې هغوي ساقي صاحب له ورکړی ؤ او دا تاکید يې خپلو ټولو خدائي خدمتګارو ته کړی ؤ چې تاسو خپل روزانه معمولات، حالات او واقعات دَ قلم په ذریعه کاغذ ته سپارئ ځکه چې دا اوسني حالات او واقعات به سبا دَ دې خاورې دَ

خلقو یو ژوندی تاریخ وي چې پښتانۀ زلمي ځوانان به يې نورو ته دَ سند او ثبوت پۀ طور دَ خپلې خبرې پۀ دلیل کښې وړاندې کوي۔

موږ کۀ دَ عبدالاکبر خان اکبر کتابونه خصوصاً ((دَ برصغیر دَ ازادۍ پۀ تحریک کښې دَ پښتنو برخه۔ زما دَ ژوند حالات ))لولو یا دَ خان عبدالولي خان ((باچا خان او خدائي خدمتګاري)) (ځلور جلده) دَ مشر عبدالخالق خلیق صاحب ((دَ ازادۍ تحریک)) (نثر) او ((زۀ او زما زمانه)) (نظم) یا دَ احمد کاکا ((خدائي خدمتګار تحریک)) (دوه جلدونه) او پۀ تېره تېره دَ حضرت باچا خان دَ خپل ژوند حالات ((زما ژوند او جدوجهد)) پۀ شکل کښې وینو ګورو نو پۀ دې نتیجه رسو چې دَ ساقي صاحب دا کتاب دَ هغه زنځیر یوه اهمه کړۍ ده او نۀ صرف دغه کتاب ((ژوندون)) بلکې زموږ لاس کښې دا کتاب ((خدائي خدمتګار)) هم زموږ دَ پښتنو دَ ازادۍ تحریک کښې دَ هغوي دَ ژوند او جدوجهد یو ژوندی ویښ او تریخ تاریخ دی۔ دَ باچا خان تاکیدي سند دا دی:

((ما خپلو تعلیم یافته ملګرو ته دا خبره څو ځله وکړه چې تاسو چې دَ پښتنو کوم خدمت کوئ چې دَ دې سره سره دَ دې متعلق لیکل هم کوئ، پۀ دې شان به زموږ دَ دې تحریک تاریخ هم جوړ شي او دَ پښتو ژبې خدمت به هم وشي لکه څۀ رنګه چې ساقي صاحب پۀ دې لار کښې کوشش کړی دی کۀ دغه شان زموږ نورو ملګرو ادیبانو کوشش کړی وی یا وکړي نو دې سره به پښتو ژبه ترقي وکړي او دا دَ پښتو او پښتنو لوی خدمت دی۔ ))

فقط عبدالغفار

۳۰ مۍ ۱۹۷۷ نقل بمطابق اصل (۲)

ساقي صاحب دَ باچا خان دا خبره لکه چې دَ خپل څادر پیڅکي پورې غوټه کړې ده ځکه خو هغوي ((ژوندون)) کښې دا خبره هم لیکلې ده چې باچا خان پۀ موږ دا هم فرض کړې وو چې دَ هرې ورځې کارروائي به روزنامچه کښې لیکئ۔ اوس هم ما سره هغه روزنامچې پرتې دي خو دومره تفصیل کتاب نۀ شي برداشت کولی۔ (۷)

دَ حضرت باچا خان دَ دغې سند او خبرونه اندازه لګي چې دَ هغوي خپلې مورنۍ ژبې پښتو او خپلو پښتنو سره څومره مینه وه۔

((ژوندون)) دَ فضل الرحیم ساقي صاحب دَ نثر کتاب دے چې پۀ سرپاڼه یې ژوندون او دننه پرې ((دَ خدائي خدمتګارۍ پۀ تحریک کښې زما ژوندون)) لیکلي شوي دي۔ ناشر یې یوسف لودي دی او سپین زر پرنټرز پېښور چاپ کړی دی خو دَ چاپ کال یې پرې نۀ دی لیکلی۔ دَ باچا خان دَ سند لاندې ۳۰ مۍ ۱۹۷۷ء تاریخ درج دی او ساقي صاحب چې کوم دوه شعرونه لیکلي دي (چې دَ دې مضمون پۀ سر کښې ولیکلی شو) دَ هغې لاندې ۱۷ اپرېل ۱۹۲۷ء تاریخ درج دی ګویا دا تاریخي دستاویز به هم پۀ دغه تاریخ کال ۱۹۲۷ء کښې شروع شوی او پۀ اخري مخ ۱۸۹ یې ۴ جولائي ۱۹۷۹ء تاریخ درج دی او داسې دا تاریخي دستاویز چې دَ روزنامچو او ډائرو نه مرتب کړی شوی دی، دَ افغانستان دَ ثور انقلاب پورې واقعاتو باندې مبني دی۔ اخري واقعه یې دا لیکلې ده:

((باچا خان موږه کره دَ ۱۹۷۷ء اخري درې میاشتې او دَ ۱۹۷۸ء وړومبۍ دوه درې میاشتې تېرې کړې، ضیاء الحق صدر پاکستان پاسپورټ ورکړو او ۴ اپرېل ۱۹۷۸ء افغانستان جلال اباد ته لاړو، ما پسې یې خطونه راشروع کړل چې راشه، پۀ ۲۷ ستمبر ۱۹۷۸ء زۀ او زما لُور مملکت (۳) چې کور کښې ورته لوئې وارۀ ((ګل بي بي)) وائي او دَ ساقي صاحب مشرۍ لُور ده چې دا زمان یې عمر اویاو کالو ته قریب دی. الله دې ژوندۍ او خوشحاله لري چې دَ خپل بابا جان ټول کتابونه یې دَ پښتون قام دپاره امانت ساتلي دي او اراده لري چې ټوله اثاثه باچا خان مرکز ته حواله کړي۔ دا مملکت بي بي هغه ګل بي بي ده چې کله زموږ دَ صوبې نامه دَ این ډبلیو ایف پي دَ نحوست نه خېبر پښتونخوا پۀ نامه تسلیم شوه نو دې ښاغلې یوه ټپه ووې چې:

خېبره بخت دې مبارک شه

چې پښتونخوا به دې پۀ غېږ کښې ګرځوینه ـ راقم)

پۀ پاسپورټ جلال اباد ته لاړو، موږ دواړو ما او دَ هغه ځای فقیر محمد بائېزي دَ باچا خان سوانح عمري لیکله او مملکت به راله پخلی کولو۔ پۀ ۲۱ مارچ ۱۹۷۹ء بائېزی فقیر محمد او دَ هغۀ وروڼه ډاکټر حسېن، حاجي غلام صدیق او لونګین او دَ دوي نور وروڼه وریرونه، خوریونه دَ ترکي نور محمد حکومت ګرفتار کړل۔ پۀ ۲۸ اپرېل ۱۹۷۸ء افغانستان کښې دَ کمیونسټو

انقلاب کامیاب شو، داؤد خان صدر او دَ دۀ خپل خپلوان دوستان او ملګري
قتل شو، نور محمد ترکي دَ افغانستان صدر شو۔))
فضل الرحیم ساقي دَ وردګې پۀ خپل قلم
۴ اپرېل ۱۹۷۹ء

محترم ساقي صاحب دَ ښۀ شاعر سره سره یو ډېر ښۀ نثر نګار هم وۀ۔ دَ نثر دغه نمونې یې تاسو ولوستې او زۀ خو یې دَ ((ژوندون)) او دې کتاب ((خدائي خدمتګار)) دَ لوستو نه پۀ دې نتیجه رسېدلی یم چې ووایم چې دَ فضل الرحیم ساقي صاحب نثر ډېر هوار، ساده، اسان او مزېدار دی۔ پۀ قیصه کښې قیصه کوي، خبرې پسې خبره کوي، اسان لفظونه، ساده جملې او واړۀ واړۀ پېراګرافونه پۀ داسې ادبي پېرایه کښې دَ وضاحت او بلاغت سره بیانوي چې لوستونکی ورسره خپل ځان هم پۀ دغه قافله کښې روان محسوسوي۔ زۀ ګرانو لوستونکیو سره دَ خپلې خبرې دَ پخلي دپاره دَ دې موجوده کتاب تړون شریکول غواړم کۀ دا مو پۀ ژور نظر ولوستۀ نو یوه ډېره ښکلې او زړۀ دردونکې افسانه ده۔ زما دَ خبرې مقصد دا دی چې دا دَ ژوند تراخۀ حقیقتونه ساقي صاحب پۀ ډېره خوږه او سوچه پښتو کښې پۀ ډېر ښکلي انداز خپل پښتون اولس ته وړاندې کړي دي چې ډېر ښۀ ابلاغ ترې کېږي او دَ لوستونکي پۀ زړۀ او ذهن نقش کېږي بلکې ځنې وخت خو لوستونکی دومره جذباتي شي چې پۀ سترګو کښې یې اوښکې راشي۔

((ژوندون)) او دې کتاب ((خدائي خدمتګار)) کښې به ډېر داسې حالات او واقعات ستاسو له نظره تېر شي چې یو شان والی لري او دا دَ دې خبرې ثبوت دی چې ساقي صاحب دا دواړه کتابونه دَ خپلو روزانه معمولاتو، حالاتو او واقعاتو دَ ډائرو نه لیکلي دي خو ((ژوندون)) کښې به اختصار او دې کښې به تفصیلي طور بیان شوي وي۔ بله خبره دا ده چې دَ دې دواړو نثري کتابونو ځنې حالات واقعات خصوصاً دَ شخصیاتو پۀ سلسله کښې تحریرونه دَ هاغه وخت رسالو پښتون، لار، رهبر او غنچه وغېره کښې چاپ شوي دي۔ دغه رنګ دَ هغوي نظمونه، غزلونه او قطعات چې ساقي صاحب ورته دوه بېتیۍ وئیلي دي، هم وخت پۀ وخت دغه ادبي علمي او معیاري مجلو کښې چاپ شوي دي۔ پۀ ((ژوندون)) کتاب کښې ساقي صاحب یواځې دَ خپلو دورو رپورټونه دَ روداد پۀ شکل کښې نۀ دي لیکلي بلکې

ځنې ادبي تاريخي دستاويزات هم لري چې دَ هغه وخت دَ ادبي محافلو او مشاغلو سره تعلق لري۔ دَ هغو نه يوه واقعه ستاسو پۀ خدمت کښې دَ پېش کولو اجازت غواړم، پۀ دې غرض چې دَ ساقي صاحب دَ ادبي خدماتو دَ زنځير يوه اهمه کړۍ ده:

((کال پس ډاکټرانو زما دَ يوې مياشتې پېرول منظور کړو او کلې ته راغلم، خپلوانو پۀ لېډي ريډنګ هسپتال کښې داخل کړم۔ علاج مې کېدۀ خو درد مې نۀ جوړېدۀ، يوه ورځ نماښام قيصه خوانۍ ته کوز شوم نو چا راته ووې چې قيوم او جعفر شاه (ميا کاکاخېل۔ راقم) چې سره دَ اسلم سالار، ارباب عبدالرحمان، صاحب ګل او پير شهنشاه اېم اېل اې زمونږ دَ اسمبلۍ ممبران زمونږ دَ خدائي خدمتګارۍ نه واوړېدل مسلم ليګيان شول او دَ قيوم ليګ ډله کښې شامل شول، نن تللي دي دَ خوشحال خان خټک پۀ هغه قبر چې تعويذ ورله دَ سنګ مرمرو دَ افغانستان حکومت رالېږلی دی، جلسه او مشاعره کوي۔ پۀ سترګو مې تيارۀ شوه او هغه وخت رایاد شو چې ادبي جرګه (پښتو ادبي جرګه نوښار چې نن هم دَ مرکزي پښتو ادبي جرګه نوښار پښتونخوا پۀ نامه خپل فعاليت جاري ساتي، فرهاد محمد غالب ترين دَ خوېشکو يې صدر او راقم يې عمومي سېکټر دی۔ راقم) چې خليق صاحب پکښې صدر او عبدالحنان (حامي) دَ نوښار سېکرټري وۀ، زۀ او تورسم دَ دوه سرو او اجمل (خټک) او سېد رسول (رسا) چې هغه وخت هلکان وو، کال پۀ کال به تللو او دَ خوشحال بابا پۀ قبر به مو مشاعرۍ کولې، ورو ورو يې رونق زيات شو، ډېر شاعران او خلق به پۀ دغه ورځ راغونډېدل۔ يوه ورځ جرګه کښې دغلته چا تجويز پېش کړو چې مونږ محمد زمان خان دَ اکوړې چې دَ خوشحال خان نمسی هم دی، ته اپيل کوو چې دَ خوشحال خان قبر دې جوړ کړي. زۀ پاڅېدم ما ووې چې زۀ دَ دې تجويز مخالفت کوم، مونږ ټول شاعران دَ هغۀ نمسي يو، مونږ به پخپله چنده راغونډه کړو او پۀ قام به هم وګرځو، چندې به راغونډې کړو او دَ خپل بابا قبر به پرې جوړ کړو۔ دَ دې تقرير سره لس روپۍ زما جيب کښې وې، هغه مې مېدان کښې کېښودې، ما وې دا زما چنده۔ ټولو شاعرانو چا نغدې ورکړې او چا ومنلې خو ځلور پينځۀ سوه روپۍ غونډې شوې۔ دَ خوش قسمتۍ نه دا ځل محمد زمان خان هم

مشاعرې له راغلی ؤ. هغه پاڅېدو او وې وئیل چې ستاسو دې کار خو پۀ ما ډېر اثر وکړو واقعي چې موږ دَ دۀ نمسي ډېر بې ننګه یو چې دَ داسې ننګیالي نیکۀ قبر مو تر اوسه نۀ دی جوړ کړی. اوس به دې کار ته ملا وتړم. دغه وخت مو یوه کمېټي جوړه کړه او خلیق صاحب مو دَ هغې صدر کړو چې پۀ قام وګرځي او چنده جمع کړي. چنده جمع شوه، مزار او ګنبت پرې جوړ شو او دَ هغې پۀ رڼا کښې دَ افغانستان حکومت تعویذ هم راولېږۀ. کار چا وکړۀ اوس پرې جلسې او تقریرونه څوک کوي؟ دَ ۱۹۳۸ء نه دېخوا ما دَ خوشحال بابا او رحمان بابا یوه مشاعره هم نۀ ده قضا کړې. هغه به قضا شوې وي چې یا پۀ جېل خانه کښې یم یا روپوش یم، یو ځل روپوش وم، دَ پېښنور کېمپ کښې وم، دَ رحمان بابا پۀ قبر مشاعره وه او طرح یې دا وه:

دَ پښتو دَ باغ مالیار عبدالرحمان دی

ما نظم جوړ کړو او دَ چا پۀ لاس مې ورولېږۀ، دَ هغې مقطع راته اوس هم یاده ده:

ساقي نن دَ شاعرانو پۀ مجلس کښې
غېر حاضر دَ یار دَ زلفو بندیوان دی

پېرول ختم شو او زۀ جوړ نۀ شوم، دغسې ناجوړه بیا جېلخانې ته لاړم. دَ جېلخانې هسپتال کښې پروت وم، وچ ډکی شوم، ډډې مې پۀ ګرولو وسولېدې، یوه غرمه پۀ کټ کښې تنګ شوم، دَ وارډ نه بهر ووتم، دَ مرچ دَ ونې دَ لاندې پۀ شین کبل څملاستم، خوند یې راکړۀ او ډډې مې سړې شوې، یو دوه بېتې مې پۀ مزغو کښې جوړه شوه، دَ دې خیال سره چې سړی مړ شي او پۀ لحد کښې څملي نو داسې به یې ډډې سړې شي.

ویرېدمه ما وئیل چې دَ دېو تور غېږې له راغلم
ناپایابه قلاری وۀ چې دَ ګور غېږې له راغلم
دَ دنیا له چورلکونو دَ عقبٰي له هېبتونو
تل تر تله پۀ قلار شوم چې دَ مور غېږې له راغلم

غني خان ته مې وصيت وکړۀ چې کۀ زۀ مړم شوم نو دا قطعه زما پۀ خازه وليکئ۔ ))

خو دَ ساقي صاحب دَ وصيت باوجود هم دَ هغوي دَ مزار پۀ خازه دا دوه بېتې نۀ ده ليکلې شوې بلکې هغه دوه شعرونه چې دَ دې تحرير پۀ سر کښې ليکلي شوي دي او دَ ((ژوندون)) کتاب نه اخذ شوي دي ۔

دَ ((ژوندون)) دَ مطالعې نه اندازه لګي چې فضل الرحيم ساقي صاحب دَ جېل ګومره سختۍ او اذيتونه زغملي دي او څو کلونه جېل يې خوړلی دی. دې موده کښې دَ ناجوړتيا پۀ حالت کښې پۀ پېرول رها شوی دی، هسپتال کښې داخل شوی دی خو نۀ دی جوړ شوی او بيا جېل ته تللی دی او دې دوران کښې يې خپله شاعري هم روانه ساتلې ده او خپل ادبي فعاليتونه او سرګرمۍ يې هم نۀ دي پرېښې۔ ليکي چې:

((پينځۀ کاله پس مې يو غزل جېلخانه کښې جوړ کړو، دلته يې پۀ مطلع او مقطع اکتفا کوو:

چې ګومره درنه کېږي ظلم زور راولېږه
دَ خپله ځانه جوړ کړه هغه تور راولېږه
پينځۀ کاله مې تېر کړۀ قام دپاره جېل خانه کښې
قيومه! نارينه شه دومره نور راولېږه

او اختر ته مې يوه شپه چې دَ اختر مياشت ښکاره شوه داسې ووې:

پۀ جېلخانه کښې را دَ بره شوې لسم اختره
ورک شې دَ غم اختره
مياشت دې بېګا زيړه لګې وه دَ لړم اختره
ورک شې دَ غم اختره

## دَ ساقي صاحب شاعري:

دَ فضل الرحیم ساقي صاحب دَ شاعری تر دې دمه دوه مجموعې دَ ((ډک جام)) او ((نیم جام)) پۀ نامه چاپ شوي دي چې دلته یې تاسو سره تعارف ضروري ګڼم او دَ هغوي پۀ شاعری خپله مختصره غوندې تبصره کوم.

**ډک جام:** دَ ساقي صاحب دا شعري مجموعه پۀ اول ځل دَ رهبر دَ اشاعت ځانګې (پېښور) چاپ کړې ده خو دَ چاپ کال یې پرې نۀ دی لیکلی ولې ساقي صاحب دَ ترون لاندې دَ نومبر درېم ۱۹۵۷ء تاریخ درج کړی دی او هم دغه تاریخ یې ((زما دا کتاب)) عنوان لاندې خبرو ته هم لیکلی دی. دغه رنګ ښاغلي ولي محمد طوفان صاحب چې پرې دَ ((ډک جام)) تر عنوانه خپلې خبرې لیکلي دي، دَ هغې لاندې دَ ۳۰ نومبر ۱۹۵۷ء تاریخ درج دی. نو له دې موږ پۀ دې نتیجه رسو چې ((ډک جام)) به دَ دسمبر میاشت ۱۹۵۷ء یا جنوري ۱۹۵۸ء کښې چاپ شوی وي.

ساقي صاحب دَ خپلې دې شعري مجموعې ترون دَ صاحبزاده عبدالرزاق رحمة الله علیه پۀ نامه کړی دی چې دَ تیراه، ورکزیو، ستوري خېل دَ باډوان او خوا مقامونو اوسېدونکی لوی بزرګ او خدائي خدمتګار ؤ. دَ ساقي صاحب پۀ کتاب ((ډک جام)) کښې دَ صاحبزاده عبدالرزاق پۀ شهادت یوه مرثیه هم لیکلې شوې ده، وګورئ دَ دغه کتاب مخ ۱۲۴ او ۱۲۵.

هم دا هغه صاحب ؤ چې ساقي صاحب او دَ هغۀ خدائي خدمتګارو ملګریو له یې پۀ خپله خصوصي خلوت خانه کښې دَ استوګنې دپاره ځای ورکړی ؤ ځکه چې کله ساقي صاحب دَ تیراه پۀ دوره باچا خان لېږلی ؤ او هلته یې دَ خدائي خدمتګاری تبلیغ کوۀ نو دَ انګرېزانو همدرد ملیانو پیرانو او نورو ډېرو داسې خلقو پناه او دَ سر سپوری نۀ ورکولو چې دَ انګرېزانو نه یې بډې، رشوتونه او ماجبونه خوړل. هم دغه صاحبزاده صاحب ؤ چې دَ خدائي خدمتګاری دَ تبلیغ پۀ سلسله کښې یې یوه ورځ پۀ جماعت کښې مونځ کولو چې ډزې پرې وشوې او پۀ جماعت کښې شهید کړی شو. انا لله وانا الیه راجعون او دَ ساقي صاحب دَ وېنا تر مخه یوازې تیراه ته نه بلکې دَ لرو برو پښتنو ته ناقابل تلافي نقصان ورسېدو. زۀ خپل کتاب ځکه دَ هغوي پۀ پاک نوم پورې تړم چې دَ هغوي پۀ برکت خدائی پاک دا کتاب دَ پښتنو ورونو دپاره فائده مند وګرځوي. (ډک جام د مخ)

ساقي صاحب دَ خپلې شاعرۍ بنياد سياست ګڼي. هغه دَ باچا خان دَ پښتنو دَ قامي تحريک خدائي خدمتګارۍ پهٔ لاړ کښې دَ يو نر او بهادر سپاهي پهٔ شان نهٔ وروستو کېدونکی او نهٔ تښتېدونکی ثابت قدم ولاړ پاتې شوی دی او دَ ظلم، زور او زياتي خلاف يې خپله شاعرۍ کښې اوچت اواز پورته کړی دی او داسې موږ وينو چې دَ ساقي صاحب پهٔ شاعرۍ کښې کهٔ دَ فن او فکر له لحاظه پهٔ هره کنډه پوره ده ولې بيا هم چې هغه دَ خپلې شاعرۍ کومه محرکه جذبه بيان کړې ده، دَ لوستلو سره تعلق لري.

((زهٔ هلک وم چې کله کله به ځان له شوم نو څهٔ لوبې، رباعيانې، غزلې به مې جوړولې. پهٔ ۱۹۲۷ء کښې مې يو نظم وليکلو او پښتون رسالې ته مې ولېږلو چې څو ځله دَ پښتون پهٔ وړومبني مخ شائع شهٔ او زما حوصله زياته شوه او چې دَ خدائي خدمتګارۍ بنياد کېښودې شهٔ او پښتنو دَ باچا خان دَ مشرۍ لاندې پېرنګيانو سره دَ ملک دَ ازادۍ جنګ شروع کړو، دَ هغې واقعاتو دَ اثر نه زما زړهٔ او دماغ بچ پاتې نهٔ شول. مطلب مې دا دی چې زما شاعري دَ خدائي خدمتګارۍ دَ تحريک يوه نقشه ده چې دَ ۱۹۲۹ء نه تر نن ورځې تاثرات پکښې موندی شي. پهٔ دې زمانه کښې رنګ پهٔ رنګ واقعاتو سره مخامخ شوي يو او پهٔ سينه مو ورله پښې اېښې دي او پرې اوړېدلي يو. تعليم مې هم ډېر کم ؤ او دَ شاعرۍ رديفونو، قافيو، اشارو، کنايو، استعارو زده کولو ته وزګار شوی نهٔ يم بلکې پهٔ ساده شاعرۍ کښې مې دَ تحريک غرض قام ته وړاندې کړی دی او دَ باچا خان دَ ذات پهٔ صفتونو مې وګړي پهٔ ښهٔ شان سره پوه کړي دي او حکومت ته مې دَ قام خواهشات او ضروريات پهٔ هسکه غړۍ څرګند کړي دي او دَ هغې پهٔ بدل کښې دَ کوتک نه دَ ټوپک دَ جېلخانې نه وروستو شوی نهٔ يم او پهٔ دې زړورتيا زهٔ خپله شاعري دَ خپل قام پهٔ خدمت کښې پېش کول غواړم.) (ه او و مخونه)

ساقي صاحب خپلو خبرو کښې دا ګيله هم کړې ده چې اول خو څوک کتاب اخلي نه او بيا دَ پښتو پهٔ کتاب خو هډو پېسې نهٔ ورکوي. ډېر کتابونه چاپ کېږي چې دَ وينو خوراک شي او خرڅ نهٔ شي. دا خو دَ ساقي صاحب دَ زمانې خبره ده اوس هم حالت څهٔ نور نهٔ دی. پښتانهٔ اوس هم پهٔ کتاب پېسه نهٔ ورکوي هسې پهٔ

فضولیاتو ډېرې روپۍ خرڅ کوي خو کۀ دَ پښتو کتاب دې ورته پۀ پېسو دَ اخستو ووې نو تندی وچوښي او پوزه تروه کړي. کۀ چا له وېړیا کتاب ورکړې هم دَ مطالعې ضرورت یې نۀ محسوسوي او هم دا عِلت دی چې پښتون قام کښې قامي شعور لاتر اوسه پوره وده نۀ ده کړې.

دَ ساقي صاحب شاعري دَ ګل او بلبل، هجران او وصال، شراب او شباب شاعري نۀ ده بلکې دَ قامي تحریک قامي شاعري ده. دَ اولس شاعري ده چې اولس سره پکښې دَ هغوي دَ زړۀ خبره هم دَ هغوي پۀ ژبه کښې ډېره پۀ اسانۍ، روانۍ او سادګۍ شوې ده. دې لړ کښې دَ ډک جام عنوان لاندې ښاغلي ولي محمد طوفان دَ ساقي صاحب پۀ ډک جام لیکلي دي چې:

«ساقي دَ هغې زمانې ملي او انقلابي لیکوال دی چې شاعرانو دَ څښې، اوربل، کجک، ګل او بلبل دائره خپل چاپېرچل ګڼلو. ساقي دَ مرحوم عبدالمالک فدا او ستي جان استاذ دَ زمانې شاعر دی. دا هغه زمانه وه چې پښتون قام دَ خپل ګران مشر باچا خان دَ مشرۍ لاندې دَ انګرېزي استعمار خلاف ډېر سخت جنګ شروع کړی ؤ او ساقي نۀ یواځې دَ عبدالمالک فدا او ستي جان استاذ څنګ تر څنګه دَ پېرنګوالي برخلاف قلمي جهاد کولو بلکې پښتنه تُوره هم ورڅخه وه، اوس هم دې دغه جهاد کښې مشغول دی. هیله لرم چې هر پښتون به دَ ساقي ډک جام دَ شوملو وړ وګڼي او دَ دغه لوی شاعر کلام به دَ خپل ملي ژوند لویه هیله وګڼي.»

دَ ساقي صاحب ډک جام دَ نثري خبرو نه علاوه ۲۹۰ مخونه لري او دَ اولنۍ دعا نه چې موږ تر اخري غزل پورې رسو نو پۀ دې نتیجه رسو چې دا شاعري دَ یو ویښ او بېدار احساس لرونکي قامي خدمتګار هغه مزاحمتي شاعري ده چې څۀ یې پۀ جېلخانه کښې او څۀ یې بهر لیکلې ده. پۀ دې کښې زیاتره نظمونه دي. هغه هم دَ وطن، قام او اولس دَ رابېدارۍ داسې تېز او تېرۀ اوازونه دي چې دَ پېرنګي استعمار مانۍ لړزوي. دغه رنګ دې شاعرۍ کښې دَ شهیدانو پۀ یاد کښې هم قومي او وطني نظمونه تر نظره کېږي. دَ ساقي صاحب غزل او لوبې هم دَ قومي غورځنګونو چپې دي چې دَ پښتنو پۀ سر را اوړي. دې کښې داسې شاعري هم شامله ده چې دَ خپلو بچیو، کور کلي نه لرې کله پۀ یو او کله پۀ بل زندان کښې

شوې ده او مونږ ته ترې دا اندازه هم لګي چې ساقي صاحب دَ خپل پښتون قام دَ خدمت دپاره دَ زندان څومره صعوبتونه زغملي دي. کۀ له کلي کوره ورله جېل ته خطونه تلي دي، دَ هغې تذکره یې هم پۀ نظم کښې کړې ده او بیا یې جوابي نظمونه هم لیکلي دي. دلته یې دَ هري پور دَ جېلخانې نه دَ زانګو ته خطاب کښې دا شعرونه لولو چې څومره سوز او ساز پکښې لیدی شي او دَ یو مظلوم قېدي دَ زړۀ اواز پکښې اورېدی شي:

زانګو تاسو چې پۀ مخ دَ پېښور ځئ
څنګ تر څنګه به قطار کښې برابر ځئ

پۀ وردګه باندې ښکته کړئ ځانګونه
هلته وکړئ دَ افسوس افسوس غږونه...

(ډک جام ۲۲۹ مخ)

او کۀ پۀ ژور نظر وګورو نو دا نظم دَ خوشحال بابا دَ حبسیه شاعرۍ هغه تسلسل دی چې وئیلي یې وو:

کۀ ګزر پۀ خېبر اباد وکړې نسیمه
یا دې ګشت وشي دَ سرائې دَ سیند پۀ سیمه
اباسین وته ناره وکړه پۀ زوره
وَ لنډې ته وېنا ووایه حلیمه
په بار بار زما سلام ورته عرضه کړه
ورسره زما له لوریه څو تسلیمه
ګُندې وي چې بیا مې ستاسو جام نصیب شي
په ګنګا جمنا به نۀ یم تر قدیمه
ټول عمري به پۀ بند نۀ اوسي خوشحاله!
عاقبت به عاصي ووځي له جحیمه

نو بېخي هم دغه رنګ او اٰهنګ دَ ساقي صاحب پۀ دغه شاعرۍ کښې هم لیدی او اورېدی شي. دغه رنګ ((دَ هري پور جېلخانه کښې)) نومې نظم کښې هم دَ

جيندي، خيالي، هشنغر، اباسين او پۀ جهل کښې دَ خپلو څلورو کلونو تذکره څۀ پۀ ښکلي رنګ کښې کوي، وائي:

دَ جيندي دَ خيالي باده بر بر راشه
خُولۀ پۀ خُوله شه راسره او خوا پۀ خوا شه
تا به وي هغه سيندونو کښې لامبلي
چې بانۀ دې لا تر اوسه دي ځپلي
مازيګر ؤ چې راتللى کۀ سحر ؤ
راته وايه څنګه حال کښې اشنغر ؤ
هري پور جهل کښې مې وشو څلور کاله
خبر نۀ شومه دَ خوږ وطن له حاله
اباسين کښې اوبۀ خړې کۀ رڼې وې
قبلې غاړې ته وربشې کۀ چڼې وې

(۲۳۲ او ۲۳۳ مخونه)

خوشبوئي دې دَ چنډن او دَ نښتر ده
څکه پېښه دې پۀ ما باندې اختر ده
دَ ساقي سلام هر يو پښتون ته وايه
پستنه کۀ بيرته لاړې له دې ځايه

(۲۳۴ مخ)

دَ ساقي صاحب پۀ شاعرۍ کښې کۀ يو خوا دَ جيندي، خيالي، ناګمان او سردرياب مستې څپې پۀ غورځنګونو ليدی شي نو بل پله ترې پۀ دغه حال کښې هم خپل پښتون قام هېر نۀ دی او دَ جېلخانې نه ورله سلامونه رالېږي۔ هم دا شان يې چې خپل زوي محمد نواز خان ته کوم منظوم خط دَ جهل نه رالېږلی دی، پۀ هغې کښې دَ خپلو نورو زامنو تذکره هم کوي، دعاګانې هم کوي او څۀ ګيلې مانې او شکوې شکايتونه هم، دا انداز يې هم دَ کتلو دی:

روغ جوړ اوسې تل تر تل محمد نوازه!
په امان شې دَ غماز له بد اوازه
نېک عمله شې دَ ډېر علم خاوند شې
غمژن مهٔ شې دَ بابا دَ منګُل بازه!...

(۲۳٦ او ۲۳۷
مخونه)

**نیم جام**: دَ فضل الرحیم ساقي صاحب دوېمه شعري مجموعه چې پهٔ اول ځل یونیورستي بُک اېجنسۍ پېښور چاپ کړې ده خو دَ چاپ کال نهٔ لري. ښاغلیو ولي محمد طوفان او ساقي صاحب چې پرې خپلې کومې خبرې لیکلي دي، پهٔ هغې هم تاریخ درج نهٔ دی، چونکې دَ ساقي صاحب وړومبۍ مجموعه ((ډک جام)) پهٔ کال ۱۹۵۷ یا ۱۹۵۸ء کښې چاپ شوی دی ځکه نو وئیلي شو چې دا کتاب به دَ ۱۹۲۰ء نه پس ته چاپ شوي وي. ترون یې دَ خپل استاذ ښاغلي انور استاذ پهٔ نوم کړی دی چې دَ درنو اخلاقو مجسمه وه او ساقي صاحب ترې وړومبۍ زدکړې کړې دي. دَ ((ډک جام)) پهٔ رنګ دَ ساقي صاحب پهٔ ((نیم جام)) هم ښاغلي ولي محمد طوفان صاحب ((دَ ساقي نیم جام)) تر عنوانه لیکل کړي دي.

((د پښتونخوا نومیالی پښتون شاعر فضل الرحیم ساقي پښتنې مېخانه کښې مېخورو ته دَ ((ډک جام)) نه پس ((نیم جام)) وړاندې کړۀ او داسې معلومېږي چې پهٔ وړومبي ((ډک جام)) یې هر پښتون داسې مخمور او مست کړۀ او تنده یې داسې سړه کړه چې دا ځل یې ورته دَ ((ډک جام)) پهٔ ځائې ((نیم جام)) کېښودۀ. رښتیا خو دا دي چې زما دَ انقلابي دور ساقي دَ دغه ((نیم جام)) دَ شرابو یو یو ګوټ دوا تشه دی او دَ دغې ښکلې مجموعې پهٔ هره رباعۍ، هر غزل او هر نظم کښې یې دَ قامولۍ، پښتو، ننګ، پت او ورسره ورسره یې دَ تغزل، دَ ژبې دَ سپېځلتیا، دَ روزمره او له هره اړخه دَ ښکلا داسې رنګ ځای کړی دی چې هر لوستونکی به یې دَ لوستلو نه پس زما مرسته وکړي. (نیم جام ۳ مخ)

دَ ساقي صاحب پهٔ ((نیم جام)) کښې اکثرې دوه بیتۍ دي، غزلونه، نظمونه او مرثیې هم پکښې شته خو زیات زور یې پهٔ دوه بیتو راوړی دی. ساقي صاحب دَ خپلې دې مجموعې دَ شاعرۍ پهٔ حقله پهٔ خپله خبره کښې لیکلي دي چې:

((ما چې دَ ژوند پهٔ اخلاقي اړخ باندې څهٔ لیکلي دي، څهٔ دَ غزلو، رباعیاتو، نظمونو پهٔ شکل کښې دي، څهٔ دَ دوو بېتو (قطعاتو) جامه کښې دي. زما پهٔ خیال کښې خلقو ته دَ خپلو جذباتو دَ اظهار دپاره دَ نثر نه نظم ډېره زر زړهٔ ته پرېوتونکې ټوټه ده او دَ مخمس، مسدس، رباعي، غزل او نظم وغېره نه دوه بېتۍ راته ډېر فائده مند څیز ښکاري ځکه چې دَ دې نخشه (نقشه) ورکوټې ده، ډېره زر یادېدی شي او کهٔ یاده نهٔ شي بیا هم دَ دې نخشې یو ورکوټی عکس دَ فکر پهٔ ائینه باندې پرېوځي چې پخپله خپله موقع سرې ته مخې مخې ته کېږي او فائده ترې نه اخستی شي.)) (نیم جام ۵ مخ)

هسې خو دَ ساقي صاحب دَ مېخانې دَ هر قسمه شرابونه ګوټ کول پکار دي خو لکه چې څنګه طوفان صاحب لیکلي دي او ما هم وړاندې کړښو کښې ذکر وکړهٔ چې ساقي یواځې دې کتاب کښې دوه بېتۍ نهٔ دي راجمع کړې بلکې غزل او نظم له یې هم ځای ورکړی دی. دلته ترې دَ لوستونکیو دَ مطالعې دپاره دَ یو څو دوه بېتو یا قطعاتو رانقل کولو جسارت کوم چې دَ هغوي دَ ژوند او فن ترجماني ترې کېږي:

څهٔ به دَ میو نشه څهٔ به دَ رباب نشه وي
زما پهٔ سر کښې همېشه دَ انقلاب نشه وي
هر څهٔ هوار کړي چې یې مخه پهٔ کوم لور باندې شي
دَ ننګیالیو پهٔ غورځنګ کښې دَ سېلاب نشه وي

(۲۰ مخ)

ډک جام وهٔ دَ شرابو نهٔ وهٔ عمر دَ ځوانۍ
لاس مروړم چې رایادې شي خبرې پخوانۍ
نشه مې کوزه شوه چې واورېدمه دَ څلوېښتو
هډونو مې دردونه کړل شروع دَ ستومانۍ

(۲۴ مخ)

مرګ اسان دی یو ساعت کښې ځان وژل شي
دَ عزت ژوندون پۀ ګرانه تېرېدل شي
دا دَ ښو مړونو کار دی بېوپار نۀ دی
دَ افتاب دَ پلوشو نه زده کېدل شي
(۳۲ مخ)

دَ حق دپاره تکلیفونه تېرول دي پکار
مال او متاع زامن او لوڼه هېرول دي پکار
بې دَ طلب نه خپل مطلوب ته رسېدلی نۀ شي
پۀ مشکلاتو کښې ځانونه ګېرول دي پکار
(۳۸ مخ)

اختر هغه وي چې یو ځای خوارۀ یاران شي پکښې
خُونه سپېره دَ بېلتانۀ او دَ هجران شي پکښې
داسې اختر پۀ جېلخانه کښې را دَ بره مۀ شه
چې دَ قېدیانو دَ تودو اوښکو باران وي پکښې
(۴۰ مخ)

له اسمانه چې غمونه کوز راځي جوړې جوړې وي
لاس تر لاسه یې نیولي یو تر بل غاړه غړې وي
دَ ساقي پوښتنه وکړې چې دَ زمکې سر له راشي
دَ هر یو پۀ لاس کښې کاسې سرۀ او شنۀ دړې دړې وي
(۵۷ مخ)

دَ ساقي صاحب پۀ ((نیم جام)) کښې دا او داسې نورې ډېرې دوه بېتې شته چې پۀ هغې کښې دَ وعظ، پند او نصیحت نه ډکې خبرې تر نظره کېږي۔ دَ ساقي دَ مېخانې شراب تراخۀ نه بلکې خوارۀ دي او دَ پت، پښتو، ننګ، غېرت نه ډک داسې اشعار هم چې دَ لوستونکیو اودې جذبې راپاروي او دَ ژوند پۀ لویه او نېغه لاره یې روانېدو ته هڅوي۔ ما دَ پښتونخوا نه وتونکیو مختلفو اخبارونو او مجلو کښې دَ ساقي صاحب ډېر داسې نظمونه لوستي دي چې هغه دَ دوي پۀ دواړو کتابونو کښې نشته۔ کۀ چرې هغه راغونډ کړی شي او ورسره دا دواړه کتابونه ((ډک جام)) او ((نیم

جام›› هم ملګری کړی شي نو پوره یوه لویه مېخانه ترې جوړېدی شي . الله دې وکړي چې دَ هغوي پۀ اولاد کښې یا دَ پښتونخوا څوک زلمی محقق دې اهم کار ته دَ همت ملا وتړي او دَ ساقي دَ مېخانې دغه پښتانۀ او خواږۀ شراب پخپلو ټولو پښتنو ورونو وڅښوي .

دَ صبر جنګ: دَ ساقي صاحب ناچاپ شعري اونثري مجموعه ده چې ځان له ترې یو ضخیم کتاب جوړېږي په دې کتاب کښې چې د نظم کومه حصه ده هغې له ساقي صېب د,, مشال ,,نوم خوښ کړې دی.او یو بل رجسټر هم دَ شاعرۍ ډک پروت دی او لټون او سمون به غواړي چې څۀ ترې چاپ شوي دي او څۀ ناچاپه دي.

دغه رنګ چې دَ جېلخانې نه یا دَ خپلو دورو پۀ دوران کښې یې دَ خپلو بچیو پۀ نامه کوم خطونه رالېږلي دي، څۀ دَ ذاتي نوعیت دي او ځنې تاریخي دستاویزات لري چې دَ خدائي خدمتګارۍ تحریک سره تعلق لري، هغه هم ځان له دَ کتاب کولو تقاضا کوي .

د ساقي صېب ډېر قامي مواد زما سره دي چې د چاپ د پاره ئې سر څنه سروع ده . د ساقي صېب منظوم کلام د کلیات په شکل کښې ‹پېمانه پۀ پېمانه ›پۀ نوم هم د چاپ د مرحلو نه تیرېږي . الله دې وکړي چې دا ټول نثري او منظوم کتابونه دَ چاپ پۀ کالو ښائسته شي او دَ پښتون اولس امانت هغوي ته پۀ ښتنه جذبه ورسي .

فضل الرحیم ساقي صاحب یوه ډرامه ‹‹سپېرۀ مرګی›› هم لیکلې وه چې دَ اداره اشاعت سرحد پېښور نه پۀ کال **۱۹۴۶**ء کښې چاپ شوې وه خو اوس یې دَ هغوي پۀ کور کښې هم یوه نسخه نشته . ساقي صاحب یې خپل کتاب ‹‹ژوندون›› کښې ذکر کړی دی چې:

> ‹‹**۱۴** اکتوبر **۱۹۴۶**ء مرکز ‹سردریاب› ته لاړم، اجلاس وشو بیا زۀ او جلیا او شرر امباډېري ښار ته لاړو، دغلته شپه شوه، نن مې زما تصنیف چاپ شده ډرامه ‹‹سپېرۀ مرګی›› یو زر دَ خلیق صاحب نه راواخستې . ‹**۱۵۲** مخ›

نو ګرانو لوستونکیو ته خواست کوو چې کۀ دغه ډرامه هر چا سره وي او موږ له یې ترې یوه فوټو کاپي راکړه نو دَ باچا خان ریسرچ سنټر پېښور به یې ډېره مننه کوي او دَ هغوي دَ خصوصي شکرېې سره به یې چاپ کړي .

## دَ با چا خان کفایت شعاري:

دَ باچا خان رح دَ خُنگ ملګري خدايي خدمتګار محترم فضل الرحيم ساقي صاحب دا کتاب "دَ باچا خان کفايت شعاري" دَ باچا خان دَ دروند شخصيت دَ يو اړخ ځرګندونه کوي چې حقيقت کښې پکښې دَ هغوي دَ ژوند دَ ټولې فلسفې نچوړ دے ۔ محترم ساقي صاحب پۀ ډيره خوږه او سوچه پښتو ژبه کښې پۀ اسان او روان ادبي انداز کښې خۀ خو خپل معلومات، حالات، واقعات او دَ سترګو ليدلي بيان کړي دي او څۀ يې هغه روايتونه رانقل کړي دي چې دَ روايت کوونکي پۀ شخصيت يې پوره باور وۀ او دَ رښتيا وئيلو يې ترې پوره توقع وه ۔ محترم ساقي صاحب دَ هسې اوربدلو او تا وې ما وې نه خپله لمن ژغورلې ده او صرف دَ خپلو معلوماتو او معتبر او ثقه راويانو پۀ روايتونو يې اکتفاء کړې ده او هم دغه اصليت او حقيقت دَ دې کتاب پۀ اهميت، ضرورت او افاديت کښې اضافه کوي، ځينو خلقو ته به دا کتاب دَ ضخامت لۀ رويه يو وړوکی کتاب وښکاري خو دَ خپلو مندرجاتو لۀ رويه يې قدوقامت دَ ډيرو بې معنيو او ضخيمو کتابونو نه ډير زيات اوچت، لوړ او دنګ دی ۔

دَ فضل الرحيم ساقي صاحب مرحوم او مغفور ټول ژوند دَ خدايي خدمتګار تحريک ته وقف وۀ او دَ هغوي دَ شعر و ادب سره علاقه لرلو پۀ سوب دَ هغوي تر ټولو لوئی خصوصيت دا دی چې ډير څۀ يې ليکلي دي او دَ مستقبل دپاره يې محفوظ کړي دي چې زموږ لاسونو کښې دا موجوده کتاب يې هم دَ دغه زنځير يوه کړۍ ده ۔ اميد دی چې دَ باچا خان رح دَ ژوند او جدوجهد پۀ نورو اړخونو به هم ليکل مخې ته راشي چې دَ پښتون قام او پښتونخوا پۀ ښه راشي او دَ باچا خان رح تعليمات او دَ هغوي سيرت هر وګړي ته لکه دَ ائينې روښانه او واضح شي ۔

## حوالې

1. ساقي فضل الرحيم ((ژوندون)) دَ خدائي خدمتگارۍ پهٔ تحريک کښې سپين زر پرنټرز پېښور (دَ چاپ کال نهٔ لري، م ۹
2. ښاغلي همېش خليل يې خپل تاليف او تذکره ((دَ قلم خاوندان)) کښې هم دغه دَ پېدائش تاريخ ليکلی دی. اول چاپ ۱۹۹۹ء (۲۰۲ مخ) خو دَ فضل الرحيم ساقي صاحب پهٔ پاسپورټ کښې دَ هغوي دَ پېدائش کال ۱۹۰۸ء ليکلی شوی دی، شايد چې دا تاريخ يې دَ مېرې گل اباد دَ مدرسې دَ داخلې پهٔ رجسټر کښې ليکلی شوی وي.
3. ساقي فضل الرحيم ((ژوندون)) (۱۳ مخ)
4. دا ټکی کنعان خېل ليکلی شوی دی. ساقي فضل الرحيم، ((ژوندون)) ۲۵۲ مخ
5. هم دغه، م م ۲۵۲ او ۲۵۷
6. هم دغه ،م ۸
7. هم دغه ،م ۴۴
8. ساقي، ((ژوندون))، م م ۱۲۱ -۱۲۳
9. ساقي، ((ژوندون))، م م ۱۲۳ او ۱۲۴